http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

مصري خان خاطر اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

د خیبر درې
د شاعرانه غیږې
په
نوم

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
په دې خم خیبر کښې څه دې بې له خاورو



# فهرست


شمیر | مخ

(ا)

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا ____ ۱۴

۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څه کا ____ ۱۵

۳ : زړه مې کوي هر وخت د دوند اشنا ____ ۱۶

(د)

۴ : کافي برقې دی دیدار د محمدﷺ ____ ۱۷

(ل)

۵ : خیر دی که درته ما وکړل تا راوکړل ____ ۱۸

(م)

۶ : داستا د حسن تماشې واخستم ____ ۱۹

۷ : دوایه شم تا نه قربان څه وکړم ____ ۲۰

۸ : باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم ____ ۲۱


http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ
۹ : زهٔ ځکه د مرم په شان دیدار ته اربهٔ کېږم ———— ۲۲
۱۰ : شرمېږي نه پېږم په ځوانۍ پسې نصیحت پېږم ———— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هېڅ بېمار نهٔ شم ———— ۲۴
۱۲ : وا خلمه تا اوکهٔ دنیا وا خلم ———— ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زهٔ ئې نهٔ اخلم ———— ۲۶
۱۴ : ځکه کلي چې په ازغو کښې وینم ———— ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېروم ———— ۲۸
۱۶ : اشنا کهٔ تا ته په کتو پره شوم ———— ۲۹
۱۷ : قسمته داسې دې ویده کړم چې بېدار نهٔ شوم ———— ۳۰
۱۸ : نور په نړهٔ ئې نهٔ ځائیږي چې څهٔ وایم ———— ۳۱
۱۹ : ته به کرغېږ هسې بنځلې نهٔ به مړیم ———— ۳۲
۲۰ : ځنګلي مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ———— ۳۳
۲۱ : رنګ ته دې کړېده سرے سکور نهٔ یم ———— ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! نهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ———— ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلے یم ———— ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ———— ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندي کله نه ماپهٔ دي چې لهٔ ځا دره ———— ۳۸
۲۶ : څوره به زهٔ ژړېږمه به سره سترګو ———— ۳۹
۲۷ : نن به څهٔ پرسې نما په ترور سترګو ———— ۴۰



مخ
۲۸ : بیا دې سحر نهٔ کړم په هغې سترګو ———— ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې تورله شپه سحر لېدلې ———— ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا لهٔ ډېره پېغو بغمو سره لالهٔ لو ———— ۴۳
۳۱ : باد شرمه د عشق ډګر ګل نور په سر دي ———— ۴۴
۳۲ : غم به سره پټ دراپه په نړهٔ ذره ذره یې ———— ۴۵
۳۲ب : ځکه چې تن په سوز بېړه درېږي کړېو ———— ۴۶
۳۲ج : مینه شوله د پېره چې انګار دې وکړېو ———— ۴۷

( ه )

۳۳ : خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ———— ۴۸
۳۴ : نهٔ یمه هجران د دنیا سترګو ته ———— ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې داد مل نخښه ده ———— ۵۰
۳۶ : خوازهٔ تراخهٔ شوه خوږه هسې نامه پاتې ده ———— ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار هسې ستړې توره شپه کړه ———— ۵۲
۳۸ : لرې د نقاب لرې کړه دل زده کړه ———— ۵۳
۳۹ : ما په شرګیر تا په خوږ تېره کړه ———— ۵۴
۴۰ : رقیبه په خپل راغلې راشنا خبره کړه ———— ۵۵
۴۱ : یاد شراب نه نشې د باسه ———— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یې رسه ———— ۵۷
۴۳ : ځکه کلي د مرسپد و ځکه شه ———— ۵۸
۴۴ : ستا لهٔ سپینه مخه ځار زما زړګے شه ———— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه دېره په لاس کښې راغله ———— ۶۰
۴۶ : ترخه ته چې زړهٔ کړېږي کله کله ———— ۶۱

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شړله ——— ٦٢

٤٨ : بيا به سره وکړو اوس ځوانۍ ده دمه دمه ——— ٦٣

٤٩ : شکر دے چې زړه هم د شپې شو مړه ——— ٦٤

٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا يمه ——— ٦٥

٥١ : دلاسې غاړه شم د ښې ځنځېر د تلې يمه ——— ٦٦

٥٢ : توبه څنګه تېرېږي که په هوښيار باندې وختنه ——— ٦٧

٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ وګڼه ——— ٦٨

٥٤ : د ستا د خلې چې فيصله مانه شوه ——— ٦٩

٥٥ : نور نصر په خړو کښې د افسون مه راکړه ——— ٧٠

٥٦ : ته خو وايه زه به څه کړم، زړګيه لېونيه ! ——— ٧١


ځ


٥٧ : ځيګر چې شو کباب په لمبو د لګېدو ——— ٧٢

٥٨ : لمبے د دریاب د مینې نه شي په واړه زړه ——— ٧٣


ی


٥٩ : داسې بلا شپه به په نصیب سره راشي ——— ٧٤

٦٠ : عکس د ستا زما د سترګو لا څپاب وي ——— ٧٥





٦١ : د ستا سترګې چې کړې چې د زړه نه وځي ——— ٧٦

٦٢ : زړګيه ! تا ولې چې دردونه ګټلي دي ——— ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نه شې په يا کښې څه دي ——— ٧٨

٦٤ : کله د ستا د خندا په در شپې دي ——— ٧٩

٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي ——— ٨٠

٦٦ : زما چې دا مدام د غه دلبر د سترګې دي ——— ٨١

٦٧ : ته خو مانه ښکې بله دنيا ښکاري ——— ٨٢

٦٨ : زړه چې که هر څو رانه هر څه غواړي ——— ٨٣

٦٩ : زما زړه او د ستا سترګې سره چوټي ي ——— ٨٤

٧٠ : ما تګ ته چې زړه د چې خو دردونه ده کا تېرېږي ——— ٨٥

٧١ : څه چې پرې پوهاو ما دیار سره چې پېږي ——— ٨٦

٧٢ : د دخت وګذار د شې ماغزه نه جوړېږي ——— ٨٧

٧٣ : خود به ايله څه د لېوني نه پاتې کېږي ——— ٨٨

٧٤ : سترګې دې کړه بربنده چې وختنه راخطا شي ——— ٩٠

٧٥ : په ارمان د نادانۍ شي چې هوښيار شي ——— ٩١

٧٦ : د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي ——— ٩٢

٧٧ : چې چې د بندے د لبر په پېچان شي ——— ٩٣

٧٨ : ستا چې خو دې زلفې کړې ژړه تار شي ——— ٩٤

٧٩ : دیوانه چې به چې دا ده چې کا قاتل به شي ——— ٩٥


Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




| | مخ |
|---|---|
| ۸۰ : خزان له ورشي بهار راشي ګلان خوشحاله شي | ۹۶ |
| ۸۱ : راشه په کوخه کښې د جګر خبرې نه شي | ۹۷ |
| ۸۲ : داستا په ستر ګو کښې به څه پاتې شي | ۹۸ |


ے


| | |
|---|---|
| ۸۳ : زړه په ما نه دے چې تا رسے مخ دے | ۹۹ |
| ۸۴ : شوګیر چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے | ۱۰۰ |
| ۸۵ : خوږ خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے | ۱۰۱ |
| ۸۶ : خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے | ۱۰۲ |
| ۸۷ : ما ډېر ګمان راته اشنا د ستا په شهر دے | ۱۰۳ |
| ۸۸ : شاڅه چې حسن دې اشنا د سرو لبو نه ډک دے | ۱۰۴ |
| ۸۹ : تک تود سرے دا ستا سرے ورېل دے | ۱۰۵ |
| ۹۰ : څومره ډېر دې په زړګي بانده دې چې غم دے | ۱۰۶ |
| ۹۱ : ستا په انتظار کښې ما نه کال څه دے | ۱۰۷ |
| ۹۲ : چې زړه دې ستا په تور دے په بل تور دې پېرند نه دے | ۱۰۸ |
| ۹۳ : چې لږ نظر هم د بصر باقې دے | ۱۰۹ |
| ۹۴ : ستر ګې دې چلوې وخندا زړه کړے | ۱۱۰ |


ې


| | |
|---|---|
| ۹۵ : د ګلان سپېګلا د ولړ کښې مسکې دې ما لېدې | ۱۱۱ |
| ۹۶ : اشنا چې ته لېدهٔ تېرې وعدې را یادېدې | ۱۱۲ |
| ۹۷ : زما د امېد ونې ونځ شيې وغنېدې | ۱۱۳ |
| ۹۸ : چې ښکلې دې وخندېدې شرشوې | ۱۱۴ |





| | مخ |
|---|---|
| ۹۹ : پوره شوېه په دې چې په کنځل کښې خکه بسکارې | ۱۱۵ |
| ۱۰۰ : اے ګله ستا چې ډکې له خندا نه ستر ګې له ورې | ۱۱۶ |
| ۱۰۱ : کڼه دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې | ۱۱۷ |
| ۱۰۲ : ډېره خوشحالي بښه نه ده بیا را نه هېرېږې | ۱۱۸ |
| ۱۰۳ : ګکه مجنون خو شوې ګرځم په بیابان دې سي | ۱۱۹ |
| ۱۰۴ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې | ۱۲۰ |
| ۱۰۵ : چې د ستر ګو دې ښکار ز لپې زما ستر ګې | ۱۲۱ |
| ۱۰۶ : خوږ د هسې ژړې کړې شرې زما ستر ګې | ۱۲۲ |
| ۱۰۷ : د ستا چې نه وینم دا تورې ستر ګې | ۱۲۳ |
| ۱۰۸ : څه و شو چې ستر ګې دې په تابانه غوږ دې شوې | ۱۲۴ |
| ۱۰۹ : چې اشنا دې کړې اېسار پرېږم ولې | ۱۲۵ |
| ۱۱۰ : اوښکې نه ګېږي څو راماتې شرې | ۱۲۶ |
| ۱۱۱ : ته به په زړهٔ کښې ماته څه راکړې | ۱۲۷ |
| ۱۱۲ : ته ما ستا شپلې پر په سېله نه یې | ۱۲۸ |
| ۱۱۳ : هر څو که هم د زړه قرار ما له راغلې | ۱۲۹ |
| ۱۱۴ : داسې راته ګورې ته نه چې راته ګورې | ۱۳۰ |


## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

---

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاتهٔ کا
خور لېمهٔ شي کم طاقته پرېوانهٔ کا

چې پلو لا مخه لرې کړي د نيا شي
لکه ستړګه د سبا چې راخاتهٔ کا

لږ يې عکس د زړهٔ واخله کهٔ دې شک وي
چې دا تور بانړهٔ دې څرنګه ويشتهٔ کا

په مئين زړهٔ څنګه دن شي چې يار راشي
په هيبت زړهٔ په کوګل کښې الوتهٔ کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون کوره
چې د يار په لور کانړهٔ وانړهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي شوک په ځيګر شي نو به څهٔ کا

چې ټول عمر يې تېر کېږي په پالنګ وي
څهٔ چې زمکه يې بستر شي نو به څهٔ کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نهٔ وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ ديدن د يار موندے په ډېر هنر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو هميشه د غمو وايم
چې اشنا يې مسرور شي نو به څهٔ کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړۀ مې کوی هر وخت د دردو نه آشنا
لږ خو مې واوره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې زۀ
ګوره د اوښکو مې سیندونه اشنا

اوس دې لۀ غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه آشنا

ښ په جبین کښې دې خالونه خوړ دی
دی په چشمانو مې ګردونه آشنا

کۀ ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دی ارمانونه آشنا



کافی بوټی دی دیار د محمدؐ
ما منلې په دیدار د محمدؐ

کۀ رنګونه به یې لارې شي په مخکښې
کۀ چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به یې هېر شي
کۀ چا ولیدۀ ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نۀ وے
نۀ وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وی یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کړه درته ما وکړل تا را وکتل
خو ګورم به دې بیا کړه دې سبا را وکتل

غم د غمسې ګلونه وو چې مینه جوړه شوه
خدای وشو پسرلے دے کړه اشنا را وکتل

دنیا را ته ګوری د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلی دی هر چا را وکتل

په مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوه
کړه غم دې را ته جوړ چې دې په شا را وکتل

دستی مې و خندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقیبه په خندا را وکتل

یو دم مې زړه نرے شو لو همزولو خاندګمه[1]
خاطر چې غریو نیولی په ژړا را وکتل

[illegible]



دستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے په سر لمبې واخستم

لاس خو یې رانه کړه چې مخ پټوی
ګوری یاران مې د غم شپې واخستم
دا در ته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وای خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا په زولنو کښې ګوره
نن یې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ په سبا پوه نه شومه
کړه دې د زلفو توری شپې واخستم
ګور د ګوندو ن را ته یو پور بنګاره شو
چې تصور د هډیو واخستم
بس یادوم دې نوری مه تنګوه
چې ته مې صبر نشې غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
نه بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ووایه شم تا نه قربان څه وکړم
نور ددې د پاسه په ځان څه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلیدلي ګریوان څه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه بیا غلم
څو یم ستا په در کښې مهمان، څه وکړم
زه به نور څه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څه وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے یم
ټول خو راته لاړل یاران، څه وکړم
پوره دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدې
بیا به داسې نه کړم سلطان، څه وکړم
چا به د غم ټک ټوټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حیران، څه وکړم



باغ د مینې دې د خیال په کښې غونچې کړم
ستا د مغ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
څله اور د خپله لاسه درپسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تېرې ښې او بدې راخورې کړم

زه خاطر خو یاره ستا د مغ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ورځې شپې کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زهٔ لکه د موم پهٔ شان دیدار ته اوبهٔ کیږم
پرېږده چې او بهٔ شم ستا رخسار ته اوبهٔ کیږم

چېرته شي خوبونه شپې پرې ستوري محفل جوړ کړي
همدا ې مشغولا شي ستا سپینګار ته اوبهٔ کیږم

زهٔ پرې بنهٔ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ې هم وار نهٔ شي ستا یو وار ته اوبهٔ کیږم

اوس خاطره ولې خدای پهٔ نیوهٔ کړم دومره سخته
بیا چې پس لهٔ مرګه ستا مزار ته اوبهٔ کیږم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin



ستا پهٔ اُلفت کښې به هوښیار نهٔ شم
خو چې د عقل نه وزګار نهٔ شم

سود ې د عشق پهٔ لېونتوب نهٔ شي
خو چې رسوا دې پهٔ بار بار نهٔ شم

یار ې وفا دې ماته هله وائي
چې تېرې لا سر او ماله زار نهٔ شم

خو چې پهٔ تورو خاورو مړ نهٔ شم
مړ به دې هرمره پهٔ دیدار نهٔ شم

کهٔ د منصور غوندې پهٔ دار شم اشنا
دا ستا لا عشق به توبه ګار نهٔ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نهٔ شم

---

[1] متن او دیوان کښې "راکړو" دے چې مصرع بې وزنه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکۀ دنیا واخلم
پۀ خندا خو څنګه ژړا واخلم

لېږي دي پورته کړه د مخ نه زلفې
لېږه سودا چې پۀ دنیا واخلم

تۀ چې پۀ سترګو کښې مسکۍ شوې ګلې
نۀ دې ددې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم پۀ دوو زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پۀ شا واخلم

مرګ او بېلتون را ته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم کۀ دا واخلم



غورمه چې نۀ ېږم په ځواني پسې ژړېږم
خداې نۀ ده نۀ پوهېږم چې ساده شوم کۀ پوهېږم

نۀ اولۀ تا تګ دا هسې کله چرته شوی
دعمره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
تۀ او ستا بناېست چې په ما څنګه څنګ کړے شي
مۀ کوه ایله نن د هر څۀ سره جوړېږم
نۀ یمه خوشحاله ستا په غم کښې خنده مۀ شي
خداې ې پښلامۀ کړه چې لۀ تا ، مرورېږم
شان ېي د کړو نۀ وي خو چې زړۀ ې شي راپورته
تا ته چې نۀ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښتۀ ې هم دا چې را ته وواېې چې درومه
خداې خبر چې بیا دې پۀ پلوۀ در بشکاره کېږم
تۀ کۀ په یو خلۀ لۀ ما خلاصېږې نو ېې واخله
تۀ به راته نۀ شې کتے څۀ له خنده کېږم

څنګه ماخاطر در ته دا ووې چې ې هېر کړه
پرېږده چې ې واره په هر ځاې کښې در یادېږم

---

میاشتنۍ ، قند ، مردان . خصوصي ګڼه ١٠ ، رګالئین نمبر (ص ٩٥)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

خوشحالي ستا شوه زه يې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا چې زړه د زړه ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه خنګه زړه اخلمَ

اول سپرغۍ وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پره شوم چې لمبه اخلمَ

په وړاندې دې خم په وروستو ګورم آشنا
زه قدمونه چې واړه اخلمَ

هر مره ګر دو ځه په خاطر دې د غم
په اسوېلو کښې چې ساله اخلمَ

○

---

له مسترليه کښې د النظ دغسې نه د ـه چې صحيح نه دے .



○

لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې ې زړه ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تور د زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څوک له لرې اوسې له ما
زه دې د نم په پلوشو کښې وينم

د ستا ليدل تېر شوي خوب وه آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړيه باخبره په ورو
تله د آشنا دې په ختو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوږو کښې وسو
اوس يې ليمګے په اسوېلو کښې وينم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

په دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غړې تېروم

په ما زهیر مهٔ شې خوږ مخ ښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوې چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا نهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشنا کهٔ تا ته پهٔ کتو پوه شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوه شوم

پس خو معلومه شوه چې نهٔ راځې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوه شوم

یا د ساقي د مېخوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر نږۍ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوه شوم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته داسې دې ودۀ کړم چې بېدار نۀ شوم
بغېر لۀ تا ستا دغمونو نه وزګار نۀ شوم

پۀ دې دنيا کښې به غم ستا لۀ زړۀ نه څۀ ونوځي
لېونم غم د ځوانۍ خو يو ځل پۀ کښې خمار نۀ شوم

ستا پۀ الفت کښې هغه خوب چې ما ليدلے اشنا
د رقيبانو د جرګو ځنې وېزار نۀ شوم

تۀ چې راکوې زۀ به هغه وخت پۀ طمع ومه
يو ځل هم مونږ د ستا د ځلې پۀ بنۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا پۀ سترګو کښې وه مانۀ کړې
دا زۀ خاطر دې د وعدې پۀ انتظار نۀ شوم

نور پۀ زړۀ مې نۀ ځائيږي چې څۀ وايم
دا نه بيا مسروريږي چې څۀ وايم

کۀ څۀ نۀ وايمه هم راپورې کګې
پۀ دې هم راته قهريږي چې څۀ وايم

د هرچا پۀ لورې ځمه داسې وخت دے
بيا مې وخت کله تېريږي چې څۀ وايم

کۀ خبره نۀ وي ما نه خپه دے خپه دے
بيا خپل حسن نه خبريږي چې څۀ وايم

ډېره ښه پۀ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرميږي چې څۀ وايم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ به کرځې مستې بنګلے زهٔ به مړ یم
چې ې اوس وے لېدلے زهٔ به مړ یم
جنازه ې چې له کوره کړه تــه دروې
تهٔ به نهٔ وې راو تلے زهٔ به مړ یم
خداې د پاره پهٔ مزار ې چې را دروې
لږ شه ماته پښه نیولے زهٔ به مړ یم
زهٔ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندې به ټول کلے زهٔ به مړ یم
وچې ترږې به پهٔ ما وې بازرغونې
دې مزار به مې مُبتلے زهٔ به مړ یم
اے اشناچې دې وطن له تهٔ رادروې
خړ خپېږ خورې لېدلے زهٔ به مړ یم
خړې خاورې به پهٔ ما باندې انبار وی
هر سړے به دروې غلے زهٔ به مړ یم

د کاکل پهٔ ختمه بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خداې سپارلے زهٔ به مړ یم



بنګلې مخ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ یم
لکه کافے مستې ګلک ورته پهٔ زړهٔ یم

چې پهٔ کومه لاره لاړشې زهٔ یې مل یم
لکه ګرد یې مستې خوړ پهٔ هر یو پلهٔ یم

زهٔ پهٔ کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو بنهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دې یاره
پهٔ دې خوب پسې لا هغسې وُدهٔ یم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې یو ځلې پهٔ زړهٔ یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

گوره چې رنګ مې سوے سکور نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د نور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مهٔ دېرېږه
سرې پهٔ ژړا دي ځکه مخمور نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې ته نهٔ ګورې څهٔ
سوے پهٔ اور یم سوے لور نهٔ یم

ستم کوه ته منع کړے یې چا
زهٔ لا خاطر مړے د ګور نهٔ یم

○



○

سپېلیه زهٔ دې پهٔ غنچو کښې نهٔ یم
عادت پهٔ داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کوه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند پهٔ تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار پهٔ خاطر
بې د ګلونو پهٔ ازغو کښې نهٔ یم ځ

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې پهٔ درتلو کښې نهٔ یم

○

ځ متن لښندنه او دیوان کښې دا بیت د غزل وروستي بیت دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به مې هېر نشي اشنا
لکه د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خوږ هم ته يې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یه

○



○

یاره ستا مینې په اور سوځېدلے یم
دروغ به نشمه په زړه داغلے یم

خو دم قسم چې تر هغې پورې ژوندے یم
ډېر دې نه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر په ځنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له دره دې بېنوا شړلے یم

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ ماپرهٔ دی بې لهٔ خاورو
نهٔ ماپرهٔ دی نهٔ ساپرهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلې پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شو نو ګلک شو
دیوال کړے چا ودهٔ دی بې لهٔ خاورو [2]

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
پهٔ دې خر خښې کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

○

[1] مترلینه او دیوان کښې دولهٔ پهٔ ځای صحیح ته (د) لیکلے شوې چې صحیح نهٔ دے
[2] مترلینه او دیوان کښې غلط مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے چې اوږد دے چا لهٔ خاورو .



○

خوږ به نهٔ شې پهٔ مه پهٔ سرو سترګو
تېرو تمه ستا پهٔ لېونو سترګو

مهٔ تووره توري بلا سترګې دي
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر لهٔ یې کار وی د ژړا سره
وهٔ چې ګوري چا ته پهٔ معصومو سترګو

بس کړه د خاطر سره څلا شه ته
خلق وېره عزت کړي د نرو سترګو

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څه يوسي زما پۀ تورو سترګو
زړۀ دې وړے لا پخوا پۀ تورو سترګو

کۀ پروا کړمه څو زۀ به دې پروا کړم
نور دې څۀ کړي پروا د تورو سترګو

وهي سترګې مې د سترګو پۀ هر لور شي
کړم دې داسې وارخطا پۀ تورو سترګو

کړي مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
وربه يې نۀ کړم د دنيا پۀ تورو سترګو

زۀ خاطر دې د ګجلو سلامي وے
ښکلو دې اشنا پۀ تورو سترګو



بيا دې سهي نۀ کړم په هغو سترګو
يو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نۀ مې شته په نورو سترګو شک د نړۀ
بس څو نړۀ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زۀ يې کړم آشنا لۀ شوګيرو سرۀ
يو مې پل خوبونه ستا قدو سترګو
نۀ يم چې د نړۀ په سترګو تا وينم
چار نا ليدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پردو سترګو
ستا دې اوبدو ودوڅو ته حيران يمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خبر دے دا زما سترګې څو بدې شړې
تۀ څو راته ګورۀ په دې ښو سترګو

څومره تږينه وړنې دی حيران يمه
سترګې د خاطر ستا لۀ مړو سترګو
ريډيو پاکستان پېښور (مسودات)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې توله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون مسې او تـــر لیدلو

دربغه چې شپه وه د وصال خو تر قصته پورې
زهٔ په دیدن نهٔ مړیدم چې مې دلبر لـــیدلو
بیا د سحر غمونو هله لیرے کـــړمه زهٔ
سرې مابنام مې نمر اوچت دغرهٔ په سر لیدلوۓ
نهٔ یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نهٔ یمه پوره
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائي وختونه
لهٔ غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لـــیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائي رېبار چې مې جانان دې مــرور لیدلو

ۓ متن ارشند او دیوان کښې چې دلته اوړي معنی مصرع داسې ده:
د ماښام سر سے نمر چې اوچت دغرهٔ په سر لیدلو
[illegible]

شوق مې ستا د ږېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبهٔ د ستمونو سـره لاړلو

خوبش مې اننګې شول د بنو ازغي مې مېر شول
نوره را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
ږېرې مې کړې ټینګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سـره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زهٔ تر ښه لوګے شم چې به څهٔ سوے ترې راشي
نوره را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زهٔ په انتظار یم
ستوریے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېــرے نوره پرې مشغولیږي
ستا د تورو زلفو زنځیرونو سره لاړلو

شو به دې مهار د عشق نیولے وی خاطره
ډونډ در ځني مسې د وختونو سره لاړلو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شومه د عشق د ګړنګونو په سرونو
په هوتم د لرې وطنونو په سرونو

د ریغه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وې
پرېږدې ته چې ګورم د ګلونو په سرونو
سترګې به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداوونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپېر سترګی حق حيران شي
دود چې کړه د لمبو د محلونو په سرونو
هسې هم ايرې يمه د باد سره الوځم
سکون مې خله نيسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د ياره که څوره پرېشي
خاورې دې پرېږدي وی د تېغونو په سرونو

ښکلی به سر ټيټ کړي ياره ستا په تصور کښې
د هر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره پټ دواړه په زړه ذره ذره یو
که دا دې خوښه نه ده چې هرچا ته دې ښکاره یو

یو دغه بېلتون دے چې عزت مو په کښې پېږدے
څو به په کښې وايو چې مدام دې در سره يو

ته زما په سرې شمعې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وی نو مرو به دواړه په يو شپه يو

نه به کله وايم که دنیا په بله واوړی
ګرځی دې نور خلق مونږ په خپله تماشه یو

پوخ به مې سوګند شی په کښېو ود څو د يار
اوس به دواړه څه رقیبه تودې په اوښه يو

راشه مرور چې مې شک له خاطر وځی
وايو به رښتيا چې دا په څه سره خفه يو

---

ل دیوان او منزل رند کښې سري ... [illegible]
ګ دا شعر منزل رند کښې نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


څکه مې تن پۀ سوزېدو تېر کړه
چې مې پېرون پۀ مسېدو تېر کړه
زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړۀ مې لۀ تېلو مرحلو تېر کړه
دلسوزی مۀ کړه تپوس همدمه
ژوکی مې عمر پۀ لمبو تېر کړه
زما دا تېر ژوندون زما خو نۀ وۀ
ټول مې د ستا پۀ تلو راتلو تېر کړه
پار بیا د چالۀ تورو زلفو نه کړم
یو ځلې مرګ را باندې دو تېر کړه
لکه د شمعې بڅکا ستا پۀ طمع
ټول انتظار مې پۀ سلګو تېر کړه
زۀ چې سپېلی تۀ ورخبر نۀ یمه
ما د دیدن پۀ رنګینو تېر کړه
ژونده د عشق لمبې ژوندې غځۀ دی
سر مې لۀ واړو ګړنګو تېر کړه
اشنا د ستا د ښکلی مخ پۀ خاطر
ما خپل خاطر پۀ سرو لمبو تېر کړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوری ور ته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړۀ زخمونه مې بیا هله شماره
کۀ د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زۀ لا ځۀ نۀ وایم چې داغ مې پۀ زړۀ
تۀ لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زۀ لۀ تا نه چا وهې یم
وار به دې راشی کۀ لې وار دې وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصوير وم ستا پهٔ درو ځو کښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا پهٔ عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې پهٔ یاد کښې رانه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کښېنم حساب ته

والې زړهٔ به زما هم داسې تک تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته
ګوره کتے نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لېونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
رامې شي له واره ژړا سترګو ته
داخو دې پهٔ خپله اشنا کړې دي
شله مې زوبل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بیا را نغله صفه رڼا سترګو ته
تا چوپه اړادې د راتلو کړې دي
ښکاري مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راکوي سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چي رقيب ته اشاري کړي دا دمل نښه ده
ته چي دا غلي غلي ګوري دا دغل نښه ده

کله يقين کړمه په دا چي مرور يې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښي دچل نښه ده

ته چي تپوس را نه مُدام کوي چي څه لټوې؟
زړه چي دا لاس په سينه ږدم داي اول نښه ده

خاطره تا چي بېګا خوب کښي دے هجران ليدلے
يقين مي دا دے اخري ستا د اجل نښه ده



خوابډه تراخه شي د خوږو وصلي نامه پاتي ده
د بدو شپي دی او د ښو هسي نامه پاتي ده

ته را نه هېر يې خدايه هر څه په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو هسي نامه پاتي ده

په سترګو ژړو او په زړو کښي سره خاندو اشنا
مه کړه ګيلي د ښو بدو هسي نامه پاتي ده

په دېره مينه کښي چي زړه او ته پرې نه پوهېږو
د هغو ورځو او د شپو هسي نامه پاتي ده

چي په پلو کښي به يي په زړونو باندي اور لګو
د ستا د هغي اننګو هسي نامه پاتي ده

صبا به واړې چي د خداي په خاطر راشه لېږه
په ما خاطر کښي د ژوندو هسي نامه پاتي ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېګا ستا په انتظار ې هسې سترګې توله شپه کړه
خندل راپورې ستورو چې سپوږمۍ راته ګیله کړه[۱]

ورته سر په زنګانه وم د وصال تږی ته غلی
ما به کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منده نظر ستهې چې هر ستوری به ځلېدو
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ورسره به یې نن وچوی که شپه وچوی د خاطر نه
په ژړا ژړا ورځ شي خو وعده یې ستا پوره کړه

○

۱ صحیح مصرع داسې په کار ده : خندېدل راپورې ستوري چې سپوږمۍ راته ګیله کړه



○

لب د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوری سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا واري ونه چوې
تکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کوه
ناصحه ما نه پوهېدل زده کړه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګیر تا په خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بیګا رانغلې شمع روبه اشنا
ما ټوله شپه په ودرېدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوی زړۀ سوزوی
هسې لمبه دې په ایرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څو به پکې سترګې زۀ د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پیمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین داوښکو په سیلابکښې
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
په خود نۀ یم تپوس راځنې مه کوه دده
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونۀ کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېږ زما له خلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لنډه تنګه دنیا ګې شوه ربه
زر مې د ژوند له اوږدې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
له دې سراې نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه مې مرې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کهٔ مې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تږے نهٔ شی
راشه د اوښکو مې باران یوسه

ته چې مسکے شوې زما زړهٔ ته ښکلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع رڼه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



لکه ګلی لۀ مسېدو ړکه شه
بانېۀ دانېغ کړه لۀ اغزو ړکه شه

چې ستا خوږو زلفو ته ښه نۀشو
زما څنګل لۀ زولنو ړکه شه

کۀ یې هر څو درسره فندیولے
خو زما مینې لۀ پښتو ړکه شه

چې یې ژوندون لۀ رنګینونه ړک شی
بیا پۀ غصه کښې لۀ نشو ړکه شه

بس پښېماني لۀ زړۀ نه وباسه نن
وېرېږه مه لۀ اشارو ړکه شه

چې تا یې هم ګرېوان ته خیرې وړي
هم ستا کوڅه یې لۀ تېرو ړکه شه

ښۀ دې زړۀ تش کړه چې بیا بیانۀ وائې
فضا زما لۀ اسوېلو ړکه شه

بدخواه چې لاس پۀ سینه کېږدی درته
دخپې څانګې لۀ اغزو ړکه شه

خاطره یار دې پۀ خپېر کښې اوسی
تېوله دره لۀ سپېلنو ړکه شه

ستا لۀ سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا پۀ ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا یا اېرېدے یا پېښورے شه

زۀ او تۀ دچا ژړا او خندا څۀ کړو
زما او ښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل غوټې تۀ لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا اغزے شه

زۀ خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه کۀ پوهېږې نو سرے شه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د هجران په شپه ډیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس تهول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لهٔ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یو څېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شو مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

○

○

ترخو ته مې نن ډېرې کېږي ګله ګله
په خوږو سره مې کېږي ګله ګله

د دردمندو نظر هغو له په کار دے
چې دلاسه دې بنهٔ کېږي ګله ګله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندے نشي
پسې ځان مسې ورکېږي ګله ګله

ښکاري یار مرور نهٔ دے اے خاطره
په لیمو کښې چې اوسېږي ګله ګله

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د ښکلي مخ شمع چې مې وه شوله
جوړه په محفل کښې تور ده شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه ډکښې مې نه ده شوله

ډېرې وعدې ښې دې لږې لنډې وي
اوس دې هېرې کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله



بیا به سره ګورو اوس ځواني ده دروومه دروومه
څوک کړی دومره غم خو دیواني ده دروومه دروومه

اوس ته ایله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بیا راته ګرانېږي اُساني ده دروومه دروومه

وې یې چې بازار کې د ښاپست دے ګرم شوے
هر شے په کښې خټلے دے ګراني ده دروومه دروومه

نه او ته خاطره نور په څه سره خوابه یو
مینه خو هم دا پښېماني ده دروومه دروومه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکليه د کوڅې شرمه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شرمه

دومره درننږدې يم کهٔ څو لرې يم
لرې به شم لورکهٔ درننږدې شرمه

نن خو دې خاطره چې سبا تهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شرمه



کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بيا راشمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس د در سره څرنګه پخلا شمه
خيال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه
تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کوم چې بستا د زلفو پهٔ سودا شمه
نورې دې د مينې لارې سمې کړه
خدايږ خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسې ځاې لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنيا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې غريږ نيولې راکتلې دي
لږه به خاطر ته پهٔ خندا شمه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا رې خاوره شرم د ښېرو ځنې وتلے یمه
اشنا په تا پسې له تلو ځنې وتلے یمه

د آشنا مخه نور مې سرے ته وے له ښې
نه خو د اور او د اوبو ځنې وتلے یمه

په ښه ښېره به دې نه لپ ږم ناښېدمه اشنا
زړه مې اوس پوه دے د ښېرو ځنې وتلے یمه

تا خو به نور راته خندلي وي چې داغه وش
که په ټول دې د کور خو ځنې وتلے یمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کرلو د کلو ځنې وتلے یمه



توبه خټکه تېرېږي په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې تېر کړل په قرار باندې وختونه

هيچرې هم سخيان خو د سبا غم ونه نه کا
له شومانو نه تېرېږي په خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده له انکار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سم کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې څوک په غم کښې دروند ښکارېږي
په هر چا باندې تېر شي په خپل وار باندې وختونه
کوره د هغو په نېه کښې نوره سودا نه وک
تېر چې شي د ښکليو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت په روغ او په بيمار
ودرېږي نه ودرېږي په بيمار باندې وختونه
د مخ دې تصور کړم خټکه مخ مې داسې تور دے
خبر نه يې کړل تېر مې په انکار باندې وختونه

ما خټکه به لټون کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي تېر کړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

که مې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وي لېونو ته مُدام
ځنګیه ته یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې څومره ستا غمونه دي وېر
پراته مې ټول په ځنګې زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په ځان قلنګ وګڼه



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړه مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې د بېدلې نه وې
په زړه دې بله څه راتله ماته شوه
نور مې ساقي څه جُرم نه دے کړے
تشه لا لاسه مې پیاله ماته شوه
که په عوض کښې یې هر څه غواړې ته
دا مې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس مې یې واګه چې جاسونو ته ځي
ماښام څو نه دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو توبې
نوره نما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

نور زهر په خوږو کتبې دافسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا نېږه چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې څو وکړې وعدې نو هومره لاشې پې وعدې
دا دې وی درپاتې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تاشېدا کېدم
په سترګو ماله پار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
د ګور مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

[1] دیوان او منزل رنګ کښې مصرع داسې ده: هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم

ته خو وایه زه به څه کړم — زړګیه لیونیه
څه به کړم او څه به نه کړم — زړګیه لیونیه

تا خو وې آبادی پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څه دی
په صحرا چې ګرځېده کړم — زړګیه لیونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته بانه ستا په لوړ ولاړ دوی
زه بې کوم طرف کاته کړم — زړګیه لیونیه

زه خاطر در ته حیرانیم چې په څه باندې راوېښ شې
چې په څه دې اوس وړه کړم — زړګیه لیونیه

[1] منزل رنګ او دیوان کښې (وړه کړم) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر مې شو کباب په لمبو اوس ونګېږه
په ما دې يک تنها کړه په هس لور ونګېږه

چې لرې درته دي شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګرو کانو په ما شور ونګېږه
څېګر مې تش ګوګل دے راشه وکړه تماشه
د سوو فريادونو تنګ تېکور ونګېږه
زړګيه اُميد لنډ کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس يې زور ونګېږه
سپين مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د ورېځو غوندې خور ونګېږه

خاطره خداې خبر که بيا ديدن وکړې د يار[1]
چې بيا د غمازانو داسې زور ونګېږه

اشنا وې دا لږکي دی د خاطر داسې پلو
رقيب وې ما زيګر شه په تن اور ونګېږه

۱ منزل نما او ديوان خاطر کښې داسې دی: خدای خبر که بيا ديدن وکړې د يار
۲ منزل نما او ديوان خاطر کښې ... شعر دے ... معنی بدلوي او قافيه غلطي



لوې درياب د مينې نه شي په واړه زړه
شومه ياره بيا د ستا غوندې په نه زړه

چې په خُله کوي يو او په زړه بله
د هغه سره به مينه کړې په څه زړه

سوي د ننګ ته چې لږ وکوره دلبره
ما نيولې ستا د حسن په لمبه زړه

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو يه
د هر ستوري سره پورته مې خاته زړه

بيا يې خوب واړه تېرېږونه او هيبت شي
د هجران چغې چې وشي په ورده زړه

يو غم نه دے چې يې وکړې اے خاطره
د هر غمونه دی کوه يې په ساړه زړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وي په غم کښې هم ابد داره شامدام
را دروي خوشحالي دې د حبیب سره راځي

خوږې په تندي يې دازل ليکلي نه وي
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندېږي او ګډېږي سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغېږي په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

۱ـ متن لیند او دیوان خاطر کښې المنظ ـ هم ، نسخه چې مصرعه يې وزن نه اري سمې کړې

۲ـ مطرچې ، ترکیب مصرع يې معنی کړې



عکس د ستا زما د ستر ګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره چې بېلتون په یو ګذار نه وځي

دا ستا کوڅې له زه د دروغ ځان په خیال نه دځمه
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع دو دیه را شه نور دغه ضد ونه پرېږده
چې په مئين دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې يې ژوند تجربه کړې
چې په رښتیا خو سمندر وي د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ايله زياتې شوې
ښکارې د ستا د ځوانۍ اوبه د شو بهار نه وځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کښې در ته لاړ د ډېره صحره نه شم
د ستا سترګې ئې کوڅې د زړه نه وځي
خدائې دې هغه وخت را نه ولي صنمه
چې ئې ستا د دیدن شپې د زړه نه وځي
که د سترګو نه ئې وځي د ستا سترګې
دې ویل که ئې جرګې د زړه نه وځي
موده پس سره یوځاې شو په محفل کښې
ستا بانه ئې ښن نېزې د زړه نه وځي
جمع زړه له اشنا چې زه د ستا یم
چې ته زلفې ئې خورې د زړه نه وځي
د مخ لرې کړه پلو زه دې لوګے یم
چې ئې ستا د مخ لمبې د زړه نه وځي
ترهغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړه نه وځي

زړګیه تا وې چې دردونه څه دي
دا په ګوګل کښې دې تړکونه څه دي
زړه په ښوئې وله څوک یې ویني
دمه دمه دا سترګکونه څه دي
بس خو که مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څه دي
نه ده اسانه اشیانه ئې د زړه
لا د ستم دې تندرونه څه دي
د ستا منزل دې دومره نور لرې شي
ګونډو پرندو ته تیندکونه څه دي
که ئې ذرې کا نور نو لا به بنده شي
ستا په فضا لا وسعتونه څه دي
چې مرور وې یو ساعت یې ګوره
چې وي پخلا نو بیا ګلونه څه دي
چې مرور یې پټېدے څو نه شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څه دي
دا په خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وي په خاطر دې پرهرونه څه دي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شې په بيا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې څهٔ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده د ستا
ياره د ستا په دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د ښې شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وې په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې يې ستړے په تپوښنو کړلو
ګله دا ستا په دې ګړوا کښې څهٔ دی

خاطره تهٔ چې ماته نهٔ شې کتے
لږ ده مې پوه کړه چې په ما کښې څهٔ دی

ګله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې ې حال وپوښته
دا ې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژي ګله
اوس ې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر د رنه تېرېږم کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وينو غرغرې وکړلې
داې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړهٔ کهٔ تهٔ ځې نو لېونے خونړهٔ يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې راګورې په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بيا بيا درځمه
په اشارو کښې دې ټګۍ پټې دي

خاندي چې جوړې شول د زړهٔ زخمونه
ايله په وينو کې خوږګۍ پټې دي

څهٔ شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څهٔ بلا مستۍ پټې دي

ستا له سينګاره مې ځوانۍ شه لوګے
ډېرې په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي

د ستا په خيال زما خاطر شو ايرې
خو د اُميد په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نهٔ وينمه سترګې کهٔ هر چرته سترګې دي

له هره دره ورته تلې سترګې مې آشنا
کهٔ وړې دي کهٔ تورې خو دې در ته سترګې دي

نهٔ تل راته مړسېږه په دې عمر مهٔ شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي

د مينې سمندر ته سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

په اوښکو مې کړې سترې وړه ونه مې د عشق
کهٔ ګل يې د مخ راځي خو ثمر ته سترګې دي

را وړهٔ چې خبرې ښه وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره کهٔ څوک غواړې نو زړهٔ له تا د يار ديدن
نو نهٔ شم ورکتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نهٔ وینم نو بله دنیا ښکاري

تنګ ګوګل یې دنیا شي چې ته یاد شې
بې تا تنګه لا ګوګله دنیا ښکاري

بې لهٔ ما نه هسې ګله صحرا ښکاري
بې لهٔ تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې پهٔ هجر و وصال نه پهٔ کښې پوهېږم
دا وستا ده کهٔ بې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان و نهٔ کړو خاطره
شګه خپره او بې ګُله دنیا ښکاري

○



○

زړهٔ چې کهٔ هر څو رانه هر څهٔ غواړي
هېڅ نهٔ دے خبر چې هر څهٔ زړهٔ غواړي

اے ماشومه زړهٔ ته د رانه ښهٔ واځې
مخه رانه غواړې چې ما نهٔ غواړي
تل به بې پروا وي ګړنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړي
زړهٔ او د نظر څخې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست راځنې څهٔ غواړي
هر سهر دے دستا د دیدن وړ نهٔ دے
راخو هم زړهٔ غواړي هم لېمهٔ غواړي
خېر نه دے کهٔ زهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم پهٔ کښې وي چې څوک یې ښهٔ غواړي

خلق پرې تېر شوي لهٔ سرونو نه
ځُلهٔ ورنه خاطر پهٔ تشه خُلهٔ غواړي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېژني[1]
نور به بدکا چې په دې منع کښې ځانګړې

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے بشپړې مهٔ کړه
مئين زړهٔ مې ستا لهٔ مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وی پروا نشته
د کلونو لاندې څانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائې ـ خفه شوې؟
زړهٔ مې بندهٔ شی په ګوګل کښې نهٔ ځائيږي

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
که پانه چې پهٔ ونه کښې رپېږي

---

[1] پوهېږي



ما وې تن به مې زړهٔ وچوی خو دردونه دی تېرېږي
بېړۍ ده څنګه کړې تپوسونه خو وختونه دی تېرېږي

جوړېږي تا اراده کړې د راتلو زما په لوری
تن مې سترګو ته د وړاندې مشالونه دی تېرېږي

جانانه زهٔ مې زغملے شم کهٔ وی د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دی تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کښې ياره نور رنګينی نشته[1]
ګلِ دهر پهٔ خاطر باندې غمونه دی تېرېږي

---

[1] متن لښکه د ديوان کښې د لفظ نشته چې مصرعه يې بې معنی کړې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه چې پرې په ما زما د یار سره جوړېږي
خیر دے زما زړه د انتظار سره جوړېږي

کله په یو رنګ شي بیا سل ځل په بل انداز
سل ځلې دیدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

وګوره واړه خندکه په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د یار شونډو د انکار سره جوړېږي

څه په خاطر کېږي نن د ښکلیو په صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړېږي



د وخت د ګذارونو مې داغونه نه جوړېږي
زما سره سپرلیه ستا ګلونه نه جوړېږي

یو ځلې يې ودان کړے ستا تصویر را له اشنا
غم غمې زما هغه فکرونه نه جوړېږي
راضي شه د یار غمه د دُنیا د غم سره
یو کور مې د ګور زړه په کښې برجونه نه جوړېږي
اے زړه ته راته وائي چې یار راشي څه به کړو
لا څو به څنې وړاندې تعبیرونه نه جوړېږي
زه خو يې اشنا لا د پخوا نه لمبے وم
د عمر لړونو ته زنځیرونه نه جوړېږي
زه تا ته په قدم کښې او ته ما ته وې ولاړه
زما او ستا په منځ کښې پېغورونه نه جوړېږي

خاطره یو ورځ نه ده نن زړه جوړ او سبا وران
چې وړې کوي غمونه هغه زړونه نه جوړېږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه دلبرنه پاتې کیږی
ګوره چې یې کړ دې یې د پښونه پاتې کیږی

زړه مې چې اشنا د ستا د تلو نه پاتې کیږی
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږی

پیغې مې د زړه د لمن ورژ پدې لاړې
غم دې په کښې ډېر شو د نیوونه پاتې کیږی

نه بلېده صبې اوس د مغ دې . دا مې زړه وه
ګوره چې به سکون د سرو لبونه پاتې کیږی

تا چې په کښو وینو دعشق بوتلم زړه کیه
څکه سې لارې د پرندو نه پاتې کیږی



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګی چې د ډیوو نه پاتې کیږی

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سدی
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږی

باده د بیلتون چې مې په لړدی بیا را نه شي
ستړګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږی

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاوری یې خاطره چې د پښو نه پاتې کیږی[1]

بیا را غلله شپه او څلند ستړدی یار را نغي
بیا به مې خاطر ښ د ځیږ نه پاتې کیږی

[1] د دیوان کښې مصرع داسې ده : خاوری مې دی چا تاته چې د پښو نه پاتې کیږی

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې که بړندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې که پرېشانه چې کړدونه وارخطا شي

خو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
وبړې شپې وعدې که چې خوبونه وارخطا شي

زهٔ درته لهٔ پاره پهٔ محفل کښې کښېنهٔ شم
سترګې چې راواړوې نو نړونه وارخطا شي

عقله چې یې وینمه زلفې تار په تار
بس خو یو کړېوان ته مې لاسونه وارخطا شي

دومره اې زړګیه ! څان ته مهٔ ښکلوه ښکلې
وبه چوې لهٔ واره کهٔ دردونه وارخطا شي

غلهٔ سره د مینې په محفل کښې چې یو ځای شي
نړونه وارخطا شي ، چې رنګونه وارخطا شي

مل ئې که د نړهٔ مې کهٔ پهٔ خُلهٔ نهٔ بیانیږي
داسې ادا وکړه چې دادونه وارخطا شي

څکه زهٔ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته نړونه وارخطا شي

میاشتنۍ، ژوندۍ پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ء

پهٔ اَرمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوبې ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې پهٔ کار نهٔ وي
پهٔ اَرمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

پهٔ توبه باندې ډېر بد ښکاري چې نړېشي
ښکاري ښهٔ چې پهٔ ځوانۍ کښې توبه کار شي

لېونۍ پهٔ کانړو لګي ورته خاندي
د هوښیارو ځنګدن پهٔ یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لرې مېلمه دے
تا به وکړه مه وار وکړه که دې وار شي

تهٔ دې خپلې سترګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر نړګې به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنيا نه چې ځلان ورک شي
غنې د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هيڅ نه ده
لکه درياب کښې چې باران ورک شي

هر سړه چې سود په لېونتوب نه کېږي
چې په منګل کښې ئې ګرېوان ورک شي

څو به لټوې مه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې يې روڼ دې د لېمو په پېمانو شي
سو دې کله بيا د لب په بهانو شي

څو چې خداې را کړې نه وي نو به ژاړم
د خيبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام يم پروا نشته
لېونۍ غونډو نه تل په لېونو شي
زه د ستا لېونو سترګو نه ډار نه کړم
که خوږونه دې د سترګو لېونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
د غه شپه د سپېلنې د وړاند بنو شي[1]

چې د ننه کوب ته دې نا شي پروا مه کړه[2]
اے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

---

[1] که دا د وايه شعر ونه منل شي نه کښې نشته
[2] د ديوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د ننه کوب ته دلې دا غلط ده دې سوزي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا چې خوږې زلفې کوڅې راتاو شي
زما د زړهٔ څنې ښې راتاو شي

پهٔ څه پېره لوېږه کښې تاو شي
لکه وږانه بېړ بوکه راتاو شي

نهٔ به مې بیا کړې لېونے د غرونو
نهٔ به دا ستا ستړگې هوسې راتاو شي

پهٔ زړ بوږې خوبه وانهٔ وېم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ څوانه راتاو شي

○

○

وږاندې به مې دا وېږې چې کاتهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوندپه شوم وايم څهٔ به شي

وايم ستا بېنو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وي داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وه مهٔ لهٔ داسې جدائي خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وېې کړو تپوس چې راځه څهٔ غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ يې پرېږدي دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ به شي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل یې د چمن وي بوراګان خوشحاله شي

ن خو مهٔ راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پر بېرده چې نا پوهه رقیبان خوشحاله شي

شمع چې بلیږي د محفل د پاره خاندي
زړهٔ کښې داسې وایي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفا ګاني، ستمونه کړهٔ غمونه وک
زړګي د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي



راشه په ګوشو کښې د جګرګو خبرې نهٔ شي
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نهٔ شي

ډېره شپه وله راشه چې له یو بل نه خبر شو
یاره په یو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شي

وایمه له ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شي آشنا په حو وصلو خبرې نهٔ شي

زړهٔ او ته چې وو ینو له ورایه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نهٔ شي

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شوګیره کړې یم
ګوره چې یې اوس په اسویلو خبرې نهٔ شي

خدای خبر خاطر زړهٔ بیا چرته ته بیا چرته
پر بېرده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نهٔ شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا پهٔ سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقیبه یار کهٔ ئې پهٔ خلهٔ پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختي پاڅېږي
پهٔ شوګیرو مئین وعدهٔ پاتې شي

یو ځلې نیغ پهٔ دې لار تېر شه آشنا
چې دې کاږهٔ واړهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا پهٔ خیال کښې څهٔ بنګاریه
دغه ارمان به ئې پهٔ زړهٔ پاتې شي

وستایه ډېر د یار ترا څهٔ خاطره
چې پهٔ کتاب کښې دې خوابهٔ پاتې شي

○



○

زړهٔ پهٔ دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ ئې خوښ دے
والله یهٔ ټولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې ئې بهیږي پهٔ مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څهٔ وشو تا کهٔ دیدن بند کړو پهٔ ما
خاطر پهٔ زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سینګار زما په سترګو کښې غمیږی
چې په کوم لورې زهٔ ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
کهٔ یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوی ، تغیروی چې ې ستا مینه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څهٔ په مخکښې مخکښې کیږی
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

کهٔ دې یار له سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مې ته وېسه دا یار دے

---

میاشتنۍ غنچه پېښور

آګست ۱۹۶۰ ع



○

خوږ خوږ یو د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما خومره اوږدې کړې دي
ښهٔ دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مهٔ کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نهٔ کړې
ورېږی دې د چا په دې شېبو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې و نهٔ نیوهٔ
ما ته څهٔ د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د ژړګی شنې پاڼې ې وچې شوې
بیا دې ته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کهٔ نن نهٔ وی سباله به دې خوښه شي
ډېر مې درته ګړے په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خدایه خوږمنه یې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زۀ مرم پۀ دۀ اختر دے

دهجران د لاسه شپ و روز ژړېږم
ځکه داسې یې پۀ اوښکو ګریوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے وږې پۀ لېمو کښې نمود دے

اوس یې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې لیدلے یې د یار ښکلے بشر دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

دریغه زۀ خاطر خوږوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ ځنډ باندې زما نه مرور دے

○



○

ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورورستي به تۀ پوه شې څۀ وائې خبر دے

دې وې زړۀ کۀ خیرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلېپ ورته کاوشېږ دے

دې وې زۀ یمه هرسي پۀ مېړو رونه
ما وې زړۀ زما د لوږو غرونو شېر دے

دې وې بیا تۀ مخ ښکاره کړه کۀ پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې راشه دلته کښېنه غم یې ډېر دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا مې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان مې د لوګو د اسوېلو نه ډک دے

خوښه مې ستا په بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو مې یاره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصیب شه خوشحاله د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نمر مخې مخ ته مې لهٔ ورایه ناخبر کتلی
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

راشه ګلونه ګواهان دی په صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

دا حسرتونه داغونه تنګ ګوګل زړهٔ کښې
لهٔ دې خو ګوره بنهٔ دے هر خوګهٔ د تیارو نه ډک دے

زړهٔ مې یوه د لیونتوب په کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مخکښنے لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر پې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مغ کتاب دې رالهٔ راوړه د قیصو نه ډک دے



تک تور سورے د ستا سوړے وربل دے
چې دې اور د ښکلی مخ ترې لاندې بل دے

چې څو څُم په مخکښې لا منزل زیاتېږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

نن چې بې شک په کومه لار دے سرداڼی شوم
نور مې هیڅ معلوم نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ څو شړول دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږه ورېږي په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پېږي نۀ شي وائي کم دے

زۀ چې مستې پرېشان او سرګردان يم
هر يو غم يې لکه زُلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه يو وارې په سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کۀ چا راوړه
په کوم ځاې باندې يې ايښے چې قدم دے
ټول عالم يې وهرصفت د سخاوت کا
ګيله څۀ کړم چې دا خپل نصيب مې کم دے
زۀ خوشحکه مستې شومه په خندل يې
خلقه ما او په جانان کښې کوم يو کم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندي
نو وچ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مۀ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا په انتظار کښې ماته کال څۀ دے
دومره لا مانده نۀ يم ستا خيال څۀ دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اور
خانده لے اشنا تا ته ډُغال څۀ دے

تا کۀ په شالۀ کښې پټه وليدم
بيا به داسې وائې چې مشال څۀ دے

زۀ دې هر يو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبين خال څۀ دے

ما خو درته وېل ورپسې مۀ ګوره
وګوره خاطره اوس دې حال څۀ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نړه ئې ستا په تور دے په بل تور ئې پېژنو نه د
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور ئې پېژنو نه دے

اے مجبوره چې ئې ورانه نه کړې دا د زړګی خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په ګور ئې پېژنو نه دے

دا نه چې ص بناپست باندې شیدا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزې خو په اور ئې پېژنو نه دے

په غیر ستا د محفل ځنې ئې نه شي ځه ګذران
در دروی به خاطر خو په پېغور ئې پېژنو نه دے

چې لېږ نظر ئې د بصر پاتې دے
جوړې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده ځو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
زار دې د مینې د لمبو ځنې زړه
لا ئې په مینه کښې ځیګر پاتې دے
تېرې د شپې وکړه که وکړې یقین
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تته نه شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن ګڼلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کومو سترګو
لا ئې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د ربار په ځله رخصت ځکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلونو به يې ښکله ځمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

ن دې ونهٔ وې په وعده کښې راته
هره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مهٔ کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے

○



○

د ځان سينګارولو کښې مسکۍ وې ما ليدې
زما د زړهٔ په سولو کښې مسکۍ وې ما ليدې

پرون چې ځهٔ پرواه ستا په کذاب نهٔ وه صنم
زما په زړهٔ ويشتلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

شايد چې وه دريا ده حېرانتيا چې هغه وخت
ائين ته په کتلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

خفه يمه په دا کهٔ بنهٔ يې ستا لهٔ سيې کړم
رقيب ته په وېلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

لبان دې لکه پانې اننګۍ دې سرهٔ ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

خبرې په غصه کښې کېږې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

اشنا چې نن ليدهٔ تېرې وعدې را يادېږي
دا وصل که هجران دهٔ، چې ګيلې را يادېږي

بس دهٔ چې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نن خلاوړ شي[۱]
دا نهٔ چې ماته تېرې مرحلې را يادېږي
ستم چې فراقجن به نن سبا را يادېږي[۲]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را يادېږي
کهٔ هرڅو شوي، نن ياد له چې هېر دي نشم بنهٔ[۳]
پخوا چې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را يادېږي
هم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نهٔ
چې چرته خو به خاورې باد وړې را يادېږي
زما د زړګي يادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هيڅ نهٔ هېرېدلې هم داسې را يادېږي
دا نهٔ چې آس چشمه اوس يې غټې ستا پېزهٔ
د ستا خمارې سترګې لا وېږې را يادېږي

بېګا چې شمع رويه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را يادېږي

○

○

زما د اُميدونو ورځې شپې وغزېدې
هر څو ستا د منزل که مرحلې وغزېدې

اوس چرته ترېنه لاړ شم لېونے چې کړهٔ يار
هرځاې کښې يې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخښه اوس دې سپي لارې ماته کړې ګټي
نظر که ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې يوې چې خاطر کړهٔ يار ځلا
پهٔ دې د رقيبانو جنازې وغزېدې

○

[۱] د مصرع يې معنیٰ ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خوږ به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو صبغ ونه وې
بس که په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زه که قسمونه ورکړم
ژړګیه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې

○



○

پوره شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وایه په محل کښې څنګه ښکارې

شومه به په باغ کښې نه په غوټو کې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې په ما کښې دی چې ګورمه هرچا ته
ننن راته اے شمعې په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

اے ګله! چې ستا ټوکي د خندا نه ستړګې لاړې
نو خود مې لېمې برېښې د ژړا نه ستړګې لاړې

نرګيه! پس له دې به يې د ستا په ستړګو ګورم
نظرې وه اشنا، چې لاړ، زمانه ستړګې لاړې
هم دا دې بد ګه شوه مه ګره ياره له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه ستړګې لاړې
ما وې چې که ورګورې نو اوس به يا مخ پټوې
نو کوزې مې ګريوان ته له حيا نه ستړګې لاړې
بلبل ته په کاته شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هرچا نه ستړګې لاړې
لې راشه شمع رويه! لږې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه ستړګې لاړې

نو څه شو که مې د خاطر ستړګې په تا نه شوې
چې د ېې داسې وينې له دنيا نه ستړګې لاړې

پښتو، قند، مردان
(غزل نمبر) جولائی، اگست ۱۹۸۹ء

○

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څه ګړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بيا به څه ګړې

در ته ګټې نه شم حيران يم دا اشنا سېګاره
تا چې داسې په اشنا وګړل په ما به څه ګړې

څو به بښېږې او دا د ټپه تل ته ماته ګړې
چې يې پېږزو نه وې دعا څخه اشنا به څه ګړې

چې څه يې وګړل څخه يې تول وګړل په تا خاطره
دا به چې تا له په لاس راشي په اشنا به څه ګړې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



په هره خوشحالي به نه ده بیا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوي تل چې مې یادېږي

زه دې یم لکه پېښېدے نه شي رانه شمېږي
خدایږو د دنیا نه په تیارو کښې به نه ښکارېږي

ماته د اشنا د وعدې مرېږ ځای اشنا دے
اے ورېه نظره ته په هېڅ هم نه مړېږي

ستا[1] به د خاطر نه وی په زړه کښې خفه تېرشوي
دومره بې پروا يې چې په مخ کښې مې تېرېږي

لے مستر لرنه او دیوان خاطر دواړو د [illegible] کښې ستا لیکلے شوے دے [illegible] خیال سمجھ کړي



لکه مجنون غوندې ګرځم په بیابان در پسې
وایم په خوله لیلی لیلی څیرې ګرېوان در پسې

نه شوم خبر نه د وصال له خوشحالی نه چرې
لکه وحشی ګرمه غمونو د هجران در پسې

نه دې اشنا یم نه چې بیا راته آشنا ووائې
پروا يې نشته دے په تا نه ګرم خفګان در پسې

چې ته بیا نه وائې په ما چې ته شیدا نه يې ته
کله د ګمرو مې ګذار نه کړو خپل ځان در پسې

په حال خبر شه چې نن دې را نه شي خواله زما
چېرې په لاس ګرځي خاطره رقیبان در پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

لږ تکره بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع روبه
څو به کړمه داګریان په توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه چار نهٔ کړم
ما لیدلی دی ماران په توره شپه کښې

○



چې د سترګو دی ښکار زړونه زما سترګې
چې یې نهٔ شي کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درګورم شي نمړنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبې راګوره د زړهٔ سره
در نه غواړي جوړ بخښنې زما سترګې

دهرچا دې دیدنونه مبارک شي
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خو نهٔ شي چې زړهٔ ژاړمه
ډکې ستا د درلښنې زما سترګې

ستا د سترګو کړي خاطر چې نهٔ درګوري
هسې نهٔ چې دي پارنې زما سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

خوږ د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې

څهٔ زوخونه پرې ډګر مر او ښکو اوړې
په ژړا د غم پېغلې شوې زما سترګې

چې سبا ښکاري ستا په در کښې نيسم
خوږ د هرې يوې ناوې شوې زما سترګې

بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې

اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړې
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

مياشتنۍ غنچه ستمبر ۱۹۶۰ع

○

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی دا پورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې واښنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خوږې کړې سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشو چې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چاته پوره نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږي دستا د زلفو څنګه حلقې شولې

ما خو هیڅ نه ویل چې دستا خُلهٔ ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څنګه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
خوږې افسانې مې په نړګوټي کښې ورستې شولې

سترګې د خاطر که ستا په سترګو تېرې وتلې دي
ګوره مه دا بدې که زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوي زړه
نه ګورې چې تاته د اشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دریغه چې مې سر دې د ستم نه وهٔ نهٔ
چې نهٔ مرکېږم ازار به یم ولې

نور به دې څهٔ وکړي بانهٔ په خاطر
تهول دې په مصر کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوبنکي نهٔ کمیږي خوږا ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نو رانیاتې شوې

څو ځلې د اوبنکو سره درغلم
داځنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به ګوري ستا سترګې نماسترګې
لږې دې وی خبر دے هو چې زیاتې شوې

تا چې د خاطر سره څهٔ ګړې دي
خبر دے اشنا داې درته پاتې شوې



تهٔ به پهٔ زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره ځنې
پهٔ دې دې نهٔ یمکهٔ څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوي اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
تهٔ به لاسونه ماته بنسهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې ووېس ودودېږم
سبا به بنکلیه یو لمبه راکه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې تول غمونه راله تهٔ راکوې
چې پروند او ګوره دې کړم نو ماله بنه شوې
اوس خو به هر څهٔ پهٔ کالهٔ راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یو اوان راله پهٔ خلهٔ راکوې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا شله نهٔ یې

کهٔ خوک خپل ځان در ته درې دړې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خرچرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ شله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوې لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

هر څوک کهٔ چې د زړهٔ قرار لوله راځي
پرهېږم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وی کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو بشکلولو له راځي

غمونه د اشنا زړهٔ اوس پهٔ هیڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
تېغ مې له زړګي وځي کا بهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې له مخه
شی دې پلوشې ښکلې بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وېروک ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه بنهٔ چې راته ګورې

ته د زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووايمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه ته چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس رانه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ مرګهٔ مرګهٔ ووتمه
ګرانه اشنا دا يې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه
نهٔ در نه خندکه هېرېدمه    خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ زړېدمه    لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما توله دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا يې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه
غږ پهٔ غږ نهٔ ودمې صحه    چې وې ژوندۍ لغړ به راشي
درته پهٔ زړهٔ کښې به يې ساتمه    پرېږده چې مړ شم بهٔ پهٔ جنازې
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ يې پهٔ څهٔ درواړومه
ګرانه اشنا دا يې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



تل به پهٔ مرچا داسې کېږي    پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبر يږي    لهٔ ګرېوانه به يې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به يې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا يې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه
خاطر خرمهٔ وے درکتلی    اوس يې ژوندون اختیار درکړے
هغه چې تا درته خندلی    نن يې د نورو خندا تور دے
زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
ځکه يې نهٔ قرارومه
ګرانه اشنا دا يې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

لے دوا به ګایه دالله) په ځای (د) لیکلي شوے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې یې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ یې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

نهٔ به غټهٔ کړم ګریوان چې یار راکړی ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کیږدی د ګوګل
هسې هسې یې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ یې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شرې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شرې
مل به خلکه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ یې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسیدو
هغه اور یې سم تل تر ځیګر ورسیدو
بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ یې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره کیلي د خپل یاره مهٔ کړه
ته طمع د دل آزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیڅا نهٔ کا
زړهٔ یې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوږلے یمه
نهٔ دې د سترګو پهٔ ښوباندې وېشتلے یمه
څه یې لهٔ ځلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غونډې ژړېږمه زهٔ
او ښکې یې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور د صنمه
خاطر کوی در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور د صنمه
وهم رباب لکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُلبلے دے
تا وړې ربېار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خبر دے کهٔ تش تور یې دې پرون زړکے شړلے
خیال یې وهٔ سنګار ته پس لهٔ دې به څو راځې
وښایه څُنګر راته          اوس د زړهٔ سر راته
وایه د بڼو غشو پهٔ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه یې وه          کړې چې کینه یې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خنګه مرې در شمه          پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو غلې در غلے وم          وړې دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ما چې کوم ستم کړے          اوس یې پهٔ تا کم کړے
دا دځوانئ وړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا          کړې به تل سلام دستا
پرې یې بنده در بار ته پس لهٔ دې به څو راځې

نن خو را ته مهٔ وایه چې نا          تر سبا
سودې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا          تر سبا
وایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وې چې تل پهٔ خیال کښې یې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بله راته بنکاری دا دُنیا          ترسبا
سودې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا          تر سبا
راکړه ساقی دا سې مئ چې شی زما او ستا نشه
هم پرې دچوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام دلبر راکړه پهٔ بیا بیا          ترسبا
سودې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا          تر سبا
نن خو دې را جمع شهٔ پهٔ مُشِیر کښې کېفونه دک
ستړګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګُلې دخاطر شهٔ پهٔ ربنتیا          تر سبا
سودې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا          تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند يې ګرېوان دے ځاځي يې نم

مينه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
وېره لهٔ چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ يې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مينه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

دګل په چم طلب کړم صنم

ـ منزل ارغنداو ديوان کښې مصرع داسې ده ـ چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نهٔ وباسې، زما او ستا نه
راځه چې دردمو دواړه، لهٔ دې دنيا نه

زما او ستا دلته څهٔ دی، خوږه مينه
دا خو هر چرته کېږی، چې داسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان په بيابانه
راځه چې دردمو دواړه، لهٔ دې دنيا نه

څو به په وېره سره، ديدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
تهٔ شه لهٔ زلفو تېره، نهٔ له ګرېوانه
راځه چې دردمو دواړه، لهٔ دې دنيا نه

دا ړک د مينې نړونه، به دواړه يوسو
ځه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل په پوښ، بل دې پېزوانه
راځه چې دردمو دواړه، لهٔ دې دنيا نه

دا مې په خوا خاطر کښې، نهٔ وو صنمه
چې زهٔ خاطر به شمه، په خاطر جمعه
ځکه چې ستا لهٔ غمه، ورېږم پرېشانه
راځه چې دردمو دواړه، لهٔ دې دنيا نه

ـ منزل ارغنداو ديوان کښې (د) ...

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سن نه کال ته د پېر غمونه

لۀ داسې ژوندنه مرګې بنۀ دے را دې شینه

الله دې خېر کړي

ستا د ماښوفریادونه

هېر به مې نۀ شي

لکه د ژاړي قطارونه

هېر به مې نۀ شي

پاس پۀ اسمان کښې جهانونو سره ځینه

الله دې خېر کړي

د پښتنو فقیره ژونده

څنګه به تېر شي

تېرخو به شي پۀ لوبه تنده

څنګه به تېر شي

پۀ مصیبت به دې څوک سر ته رسوینه

الله دې خېر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي

څوک يې يادېږي

غم د عفوې را سره پېر شي

څوک يې يادېږي

څوک چې د قام او د اولس خدمت کوينه

الله دې خېر کړي

خاطره صفه خلق ستا يه

پۀ خپل کتاب کښې

تل پۀ بار بار دغسې وايه

پۀ خپل کتاب کښې

حاجي سرونه پۀ وطن ورکړي دينه

الله دې خېر کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې تولې په سبا سبا کېږي تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا پسته سترګو د پاره فکروه مانه بنګلیه یاره
څومره لېږي ې په نېګرتې باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خداې د پاره بس ګډ راشه که مرو دې راځغلاشه
ستا د راتلو په انتظار ې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې زما د زړه خوښي جدا شوې
زما د استرې شوګیرې دې تولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطر زه څان ته حوانه یمه که لېږ راګورې بس روانه یمه
د پېغلتوب ملګرې تولې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه خته له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه بنه دی په ما
زړه مې د ستا د پاره واله چې وی دې په ما
واوره صنم

په کومه لاره بنګلیه چې قدمونه کېږدې
د بړ د مېنې په زړه باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر د بړ ګران دے په ما چې په خنداشې صنم
واوره صنم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پهٔ تش دیدن باندې ې ړو ړو مشغولېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لهٔ هرچا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تا له چې درشمه نهٔ ځهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې ې لهٔ ځانسره ژړېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېڅ نهٔ کړمه
یوساعت بې لهٔ تا به پهٔ نوره ځهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا ې قُدهٔ کېږه راویښېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل ې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې ژنګېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

خان ته دا تول ه دُنیا خاطره ما وکړنه
پهٔ کښې ې مخ او زُلفې بېکا سبا وکړنه
د نړهٔ پهٔ مینه ې پهٔ سترګو کښې اوسېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

له که په ربړیان او مشرانه کښې (د) دے



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې
ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پهٔ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پهٔ محبت ې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي وه پېدا لهٔ اوره
لېږ زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره دا سې حېران دے
پهٔ محبت کښې ستا بندیوان دے
یې کبرجنه بې ړیا یې
ما ته قبوله دلربا یې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړۀ زړې شه
خاورې ایرې شه
ځي دستګو د زړګ وینه
اے زړۀ غمګینه

راشه کۀ وینې
د زړګې وینې
د یار پۀ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړۀ غمګینه

خاطره داشپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړۀ غمګینه

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
څۀ به د بنګلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لا مغه دا زغو ورځې دی
ځان کړه پۀ خبر داوس د ګلو ورځې دي

راشه چې ژوند دې د کیفونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

اوس به توک بوټي سره ځان ونبائی
څوک به ګلې، څوک به ګلان ونبائی
لاله به هم خپلې ګرېوان ونبائی
هم به بلبل شورو فغان ونبائی

اوس به بنا خونه د رنګونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوی
په کښې ځایونه به د ګل جوړوی
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوی
په آئینو کښې به کاګل جوړوی

دغه جهان به له نازونو ډک شی
راځې سپرلے وار د خزان تېر شو

بنکلی ځلمی به په شملو کښې بندی ګل
او رس خو به جونه په کمڅو کښې بندی ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندی ګل
خوک به د زړه په پرهرو کښې بندی ګل

داسې به زړونه په داغونو ډک شی
راځې سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ښایست د چا خندا نه وینم
چې ې لیده هغه رڼا نه وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وینم
زه نور ګلونه د دنیا نه وینم

څوک له جهان له دیدنونو ډک شی
راځې سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان ړنګوی
زړه په ګوګل کښې ې جانان ړنګوی
د مینې ګل را نه هجران ړنګوی
نه کړی خاطر دغه بوستان ړنګوی

د مغ کتاب دې د رازونو ډک شی
راځې سپرلے وار د خزان تېر شو

ځکه به د بنکلو نګهتونو ډک شی
راځې سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مې غواړي شمع رويه سوزېدل
راشه يو ځل
ارمان مې دا دے که پوره شي
د رنځ دارو مې د اشنا سره لېدل
راشه يو ځل
څو به شوګير کړم راته وايه
واړه خوبونه راڅخه وتښتېدل
راشه يو ځل
که ديدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې ځوروي مې ترور ودبل
راشه يو ځل
عاشقان ګوره حال يې څۀ شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه يو ځل
سوال د خاطر منظور کړه ياره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه يو ځل



ښ دې ودبل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے
د ژوند کاروان مې دے د غم څپو ګړدونو کښې
واوره فرياد مې د جرس په اوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے
ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تيارې به وينم
سبا د وصل به وي لرې که نږدې به وينم
دستا منزل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زه اور راته بل دے
خاطره ښ دې کله لږ سم راته کتلي وے
واړه بناپسته به دې لۀ زړۀ څخه وتلي وے
دکتو چل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګې نیولې دي ما ستا په رخسار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې

ما چې لیدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت را سره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې

نه در رسیږی نه در ته غږ شی
نه را نه خبر شی نه را نه نښ شی
دا څه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توري، مې په خمبار کښې

یار یې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
نکه سپوږمۍ وی ، ستوري قطار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرې وختونه
زه دې یاره نه یم         دومره وزګاره نه یم
چې در ته کوم

ماته را یاد نه دي څوک زه په ځان کښې یمه
په زړګی غم نه لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زه لیونے یم چې کوم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم         دومره وزګاره نه یم
چې در ته کوم

لیونی نه یمه چې ، دغه سودا کومه
په تا دې او د بلیږی زه څه پروا کومه ل
چې بیا مې عقل را ته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم         دومره وزګاره نه یم
چې در ته کوم

---

ل مترلینه او حیران کښې دواړه مصرعې داسې دي :
لیونی نه یم چې دا سودا کړم — په تا دې او د بلیږی زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تورې سترګې دې اشارې کا      سرې شونډې دې لبې کا
زړه کیږي راته وایه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته انغی کا      پېنې دګلو انګی کا
چې مسکې شي بیا سترګې مرې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کیږي راته وایه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بسره ته وی      کره چې څه دې نن په زړه وی
چې مو خلق ټول تماشې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کیږي راته وایه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په توره شپه کښې      دا دې خاطره په تیاره کښې
خپلې اوښکې دې ځان ته ډېرې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کیږي راته وایه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

له متن لرته او دیوان کښې (ښ) نشته
له متن لرته کښې دا بند نشته

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان وو وینم
چې په اینه کښې ګورم آئین پریشان وو وینم
جانانه ډېر درپسې ګرځمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له څمه مئین سوزېږي په ما
لکه د اور په شان سپېکار ځلېږي زما
خاطره مه راځه بلېږي سره اودونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره ښه را ته معلوم یې
هسې خو نه چې ته ماشوم یې
ګله نه یې په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کښې دې ګیر کړم
اوس دې دلبره څله هیر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



ګنې له غمه به دې مړ شم بیا مړې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شې
بس اوس مې قتل ته تیار شې
اشنا زما څخې وېزار شې
پروا مې نشته خو په خپله مې ذبح کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

ځکه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دستا چې نه یمه د چا یم
راغلې دایم په خندا یم
مرور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مرور شوم نو ګیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ته به د ستا د حسن وارشي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نه را درومې اشنا نو وعدې څه کوې
هغه پرون دې څه وې نن چې بيا بله کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

سترګې مې بې له تا نه د چا په لور نه ګوري
د ستا له مخه څنې مخ نه نور نه ګوري
مړې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

زه د بل چا د مینې اشنا څه طمعه نه کړم
زه به له نورو سره ستا مینه سمه نه کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزل نه او دیوان کښې (ټ) دے

چې نه را درومې یاره ته، منع دې کړم یاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
ته به شې ستا شباب، سر دې نه کړو مراد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل ځيګر
نه کړې پروا پرې دلبر
نور مې دی څوک چې یې واوري دغه فریاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

که بنه دې شي په سر زما
وي دې پیشکش دلبر زما
وائی خاطر شه نا له تا، نشته باقي جانباد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نن مخیه یاره تا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

ستا د کاکُل په تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
نن تماشه یې د ژړا چې دې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

د ستا په مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خود خپل عقل نه وژکار شم لېونے خوښ یم
راسره غم د لېونو شی چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
له ډېره هجره ضرور ګل یې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin



د قام ځلمو سترګې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چرته کښې ودرېږدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نن په ځېرې خپل طاقت په ټول جهان خور کړئ
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شاته نور مهٔ ګورئ په وړاندې خپل قدم کېږدئ
په وړاندې لارو باندې مهٔ ځئ قدم سم کېږدئ

له مونږ لرې کړئ ازغی ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مونږ له راغلی وار خطا تللی دی
ځلمو زمونږه څنې ډېر ځلی په شا تللی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سو هم واورئ چي پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې موسر تېر نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصیحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملامو د قام خدمت ته وتړئ چي سیال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چي خوشحال شئ پکښې

چي ئې ونهٔ کړئ ځلمو بیا به یې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله یې وکړئ

یو بل ته مهٔ ګورئ ، لهٔ ځان هر یو مالیار جوړ کړئ
د پاکستان د هر یو کوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شو
چي پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زموږ
جاه و حشمت دے زموږ
د قربانۍ په ډېرو وینو د اسمان جوړ شو
چي پاکستان جوړ شو
دا ډېرې مهٔ کوه
هسې د پکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر یو مسلمان جوړ شو
چي پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زموږ یو ځان جوړ شو
چي پاکستان جوړ شو
موږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چي کشمیر کښې هندوستان جوړ شو
چي پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښائسته په شان وو اول
جهان پرېشان وو اول
اول وو ښائسته اوس درياب تر بې پايان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

هر امتحان ته ولاړ!
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

*

ستا د هلال ستوري مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستوري بکاري نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستوري سر او بصر دے زمونږ

تل ځليږي په تا چې يې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**